LSCB

Stop abuse

# Female Genital Mutilation (FGM)

# د ښځینه جنسي غړو بدلول




FGM په روغتیا او عواطفو باندې ډیره ناوړه اغیزې کوي چې د عمر ترپایه پورې نه لرې کیږي.

**همدارنګه په انګلیند کې دا کار غیرقانوني دی.**

**کومې مرستې ترلاسه کولی شئ؟**

که چیرته FGM مو تیر کړی وي، د خپل معالج داکتر یا د صحي خدماتو له نورو متخصصینو څخه صحي مرسته او ملاتړ ترلاسه کولی شئ. که چیرته حمل لرئ نو زمونږ قابله درسره مرسته کوي.

همدارنګه د FGM کلینکونو د داکترانو او خدماتو په اړه تفصیلي معلومات له www.nhs.uk/fgm ادرسه لاسته راوړلی شی.

**که چیرته د کومې انجلۍ په اړه اندیښنه لرئ چې د FGM له خطر سره مخ وي، له یوه متخصص سره یې شریک کړی یا د 0800 028 3550 شمیرې له لارې (24 ساعته د ورځ فعاله وي) د NSPCC کومکي لیکي ته خبر ورکړی. پدې اړه نور معلومات د NSPCC له ویبپاڼي ترلاسه کړی؛ https://www.nspcc.org.uk/preventing-abuse/child-abuse-and-neglect/female-gentital-mutilation-fgm/**

**که چیرته دا ویره لرئ چې د کورنۍ یا تولني لخوا تاسو یا ستاسو لور د FGM ترسره کولو ته اړ ایستل کیږئ، نو له خپل معالج داکتر، صحي ملاقات کونکی، ښوونکی یا د نورو مسلکي کسانو څخه مرسته وغواړئ. که کوم ماشوم له فوري خطر سره مخ وي، د 999 شمیرې له لارې پولیس ته خبر ورکړی.**

**د FGM په اړه د مشورې، ملاتړ یا راپور ورکولو لپاره، مهرباني وکړی په لاندې ادرس اړیکه ونیسی:**

د ماشومانو تولنیز مراقبت ته په **01225 396312** شمیره خبر ورکړی.

د هغه مشرانو لپاره چې پاملرنه او مرستې ته اړتیا لري د باکرو پاملرنه د بالغو د خوندیتوب دله په 0300 247 0201

که چیرته غواړی دا معلومات د محلي تولني په کومې بلې ژبې یا بله بڼه تاسو ته وړاندې شي، نو مهرباني وکړی 01225 396350 شمیرې ته زنګ ووهی.

Bath & North East Somerset Council

NHS Bath and North East Somerset Clinical Commissioning Group

**FGM څه دی؟**

Female Genital Mutilation (FGM) یا (د ښځینه جنسي غړو بدلول) هرهغه عملیې ته ویل کیږي چې په هغې کې ښځینه جنسي غړي لرې یا ژوبل کیږي. پدې پروسه کې د ښځینه سالمه جنسي غړو د لرې کولو یا تخریب لپاره هیڅ کوم طبي دلیل موجود نه وي، او د بدن طبیعي فعالیت له خنډ سره مخ کوي. دا کار کولی شي د ښځې یا انجلی روغتیا ته جدي صدمه ورسوي، شدید درد رامنځته کړي او په لنډ او اوږدمهال کې ګڼ شمیر منفي اغیزې وکړي. ځیني نجوني د FGM په نتیجه کې وینه ضایع کوي یا په شدیده مکروبي ناروغي اخته کیږي چې ان د مړیني لامل یې هم ګرځي. کومې ښځې چې FGM تیرې کړې وي په ولادت کې له ستونزې سره مخ کیږي. FGM معمولاً په هغه نجونو کې ترسره کیږي چې له 5 څخه تر 10 کلونو پورې عمر ولري، که څه هم له دې نه کم یا زیات عمر کې هم ترسره شوی دی.

**د FGM ډولونه**

**1 ډول** د کلیټوریس یوه برخه یا ټوله لرې کول

**2 ډول** د کلیټوریس او وړې شونډې یوه یا ټوله برخه لرې کول

**3 ډول** د کلیټوریس په شمول، د ښځینه جنسي غړو ټول لرې کول. پدې ډول کې د جنسي لارې خنډې ګنډل کیږي او یوازې یو وړوکی سوری پرینبودل کیږي.

**4 ډول** د پورتنی مواردو څخه پرته نور ټول زیانونه په 4 ډول کې راځي لکه د ښځینه جنسي غړو پرې کول، سوځول، تخریشول، ستنه وهل، کشول او سوری کول.

**ولې FGM واقع کیږي؟**

نجوني معمولاً د مور او پلار یا نورو خپلوانو لخوا د FGM منلو ته اړایستل کیږي. د دې کار دلایل عبارت دي له:

- دود او دستور
- مذهب
- د رواج خوندي ساتل
- د بکارت خوندي ساتل
- پاکوالی
- د کورنی (ګواکې) شان ساتل
- ټولنیز قبولیت، په ځانګړې ډول د واده په مورد کې

دا موارد ټول د غلط فهمی یا ناپوهی له وجې نه د FGM لپاره د دلیل په توګه وړاندې کیږي. ځیني خلک فکر کوي چې FGM د دوی د مذهب لخوا امر شوی، د بیلګې په توګه، **1 ډول** FGM ته ځیني خلک په ناپوهی سره سنت وایي. خو په حقیقت کې هیڅ کوم داسې دیني دلیل نشته دی چې د FGM کړنه تایید یا امر وکړي.

**FGM غیرقانوني کار دی**

FGM غیرقانوني کار دی او په هیڅ صورت کې نباید په انګلینډ یا نورو ځایونو کې ترسره شي. دا په حقیقت کې د ماشوم ناوړه کارونه او د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالی دی. همدارنګه له یو چاسره مرسته کول (چې هر ډول وي) ترڅو FGM ترسره کړي غیرقانوني بلل کیږي. هر څوک چې دا جرم ورباندې ثابت شي، تر 14 کاله پورې زندان او جریمې سره مخ کیږي.

**FGM ستاسو روغتیا ته جدي زیان رسوي**

FGM نجونو او ښځو ته د لاندې مواردو په شمول، ډیر جدي زیانونه رسوي:

- دوامداره درد
- تکراري مکروبي ناروغی چې د شنډتوب سبب ګرځي
- وینه تویېدل، کیست او دانې
- د تشو متیازو په کولو کې ستونزې یا بې اختیاره متیازې کول
- زړه تنګی او ځان ځورونه
- د ولادت (زیږون) ستونزې چې د مړیني سبب هم ګرځیدای شي
- د جنسي روغتیا او ماهوارې ستونزې